

Ketabton.com

# وږانګه

يوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندې
بيا پېرې په ځای ولاړ وي
او تيرې وې لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ
د هغه ټولو ملیالو
چې د بنیادموډ ښتو نو ځنی
تبځندی د پښتو خولانی او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوی او دا
ړنګ آدمزاد خپل قچیرقامت
ته ورچکوی اوژوندنور
غوځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په بنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سر آسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړ غونېدی شي

په خړږک[3] دي ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پلي[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادارهنر دي نه نړ ده
که نه يې چتی بازېدی شي

لیت او لارچې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

١- نوربېدل = بدلېدل، ٢- لیکه = حساب، ٣- خړږک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
٥- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله، جمعیت، ٧- پلتل = یوځای کېدل، ٨- ملتل = مرکېدل

که سواره لوی فرعونان دي

که کلیم (ع) شي کونډېدی شي

د برې لارې بند نه دي

که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میر ښکارانو

ګډ په وینه کې د خانان کا

بیا د خټو کوکوشتان ټول

الوتونکي باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا

رانسکوره زور جهان کا

پربیا سلې او نتلې [1]

د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې میړه خپل دی

ټینګ په ننګ او په خپل خېل [2] دی

د زمرو ماړې [3] یې ژوند دی

چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱-نتلې = ناتارشوی، ۲-خېل = هوډ، ۳-ماړې = ښکار.

ترمې وينې دی سکروټې
ترمې وينې هم رامبيل[1] دی

دخپل تنګ دې پاتې شوي
په کولنډ[2] دی که په ښکېل دي

رشی څنګه بې کونډۍ[3] شي
چې څانګۍ[4] همه رشپېل[5] دي

داطبيب به دې څنګ روغ کړي
چې يې چارې د شاخېل[6] دي

چې د دروزی[7] يې تنې وي
په وينو پراته غلبېل دي

چې جامه يې کاسيري[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګۍ[10] وروستۍ ده
مشرۍ که په چارخويل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنډه = کټخه چې دغوبې، څاروي څښتنه يې اچوي چې دآزاد ګرځيدونه يې منع وساتی، ۳- کونډۍ = کا ټې کښتې - خلېل، ٤- څانګۍ = دړې غابې ٥- رشپېل = چې دغلې رشی پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خېل کوی يعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوی، ۷- دروزه = دغنمو ونډه - تيلی، ۸- کاسيری = بدلمنی ۹- چېل = پروني، ۱۰- انګۍ = يوه لوبه چې وايي انګۍ انګۍ مل دی څوک دی ،
۱۱- چارخويل = قرقره،

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئیل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" تول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ځوند په هر اړیکی وي چې
کلیمي ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[3] پیټي
وړي تندي با ندي میړونه
د ملځي نه کله کیږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چي "زه یم" نه کړي
خوشي پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = ارولی حُمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرګه کې چې لر و بر کړي
بلالي[1] هغه بانګونه
چې دا ځمکه د خدای کوړ کړي
دي هغه د ښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړي وړه وي
د ننګيال په مټ، په توره
د لته اړ د ښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګيال د مزري زړه وي
تور[2] ښنګلونه خوندې وي
حق ننګي يې غرين کړه[3] وي
ساه يې واچوي جوش[4] کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
د ناحق ورړه[5] بتول پړه کړي
ورړه هغه کړي، چې تل پښ وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورښنګلې = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو
۴- جوش = تنه ، ۵- ورړه = بربالي.

O

د ګېدړه په اوړو نه شي
چې په غرمب د ښتو زمرو شي
په تسپو مو سلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه سودېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي ګولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير ګړولی
کله څوک بې هوډه يالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لينګو شي
د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو تورياليو شي
د ځيرک مېړانه کله
له درست کلي د رندو شي

۱- منښته = زيارتونو ته دورو د ياره په ځان ځه منل، ۲- نارام = ناغيړ - ناراست.

چې رنځور باویړی(۱) وکړي
پوچې هیلې د دارو شي
آدم وګوره ای مارکسه!
کله یې سود په کوږ کو شي
د ځانګو د کوچنی نمړی(۲)
پوره څه رنګ په ځلمو شي
چې د نمر د رڼاوې وي
روڼ به څنګ په اورګو(۳) شي
عقل څه خوني اتي دی
راسوړي(۴) په خپلو ملو شي
د ځیرک سر پوره والی
د حرص په سیپارو شي

○

چې له مال خبره واوړي
پټ به سر باندې پاله شي
کائنات چې په منګل کړي
دا سړی سړی باله شي

---

۱- باویړی = بابېړی = د ناروغۍ بیا تاندېدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوړي کېدل = راګرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوښتي نه تلي صبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلي هغه چې ښېوه[1] یې
یو د «زه یم» په پساله شي

زه یم هر کله ځلمی دی
دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحر وي
چې دا ځمکه یو کاله[2] شي

په یولوی سین کې غړپلی
چرې، چړ، لښتی، و یاله شي

دکتاب حد ماتي مه شي
هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لارې زړې

حق به هله میشته وکا
لومړی غیر چې وشړي

یا سړی یاد خړې شه
حق ناحق ولې ولړي

۱- ښېوه = دول- ښایسته والی، ۲- کاله = کور

زېبنا کيان چې له مينځ ورک شي
پرګڼې به شي مړې
لوی آتيان لکه او(۱)ګر کړي
د جګ غر تيږې وړې

○

ستور ځار کو دواړه کسي
په ځار لو کړل تنها کې
نړۍ ونت يې چرته بيا موند
برد ستورو په دنيا کې

○

له کارونو او له شکو
سره زر وسنګل کير(۲) يکړو
الوول حق وناحق دي
څنګ تراوسه ستړکورو؟

○

د بوذر(۳) د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پيوندي دي

---

۱- اوګره د ځاروود خوړلو نه وروسته پاتې کېدونکې ګياه يا تانتې، ۲- کيرېکره کيږي کوونکي

جوړوي د ښيښو مېنې[1]

ځېرکان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوخته مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی

يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود ئې څه دئ؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه انډولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته- نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکي نه جوړ- چې کډوونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندينکي.

دا خاورینه واړه توکي
د بړیښنکو غوښې دي
او بړیښنکو ته چې ځیر شې
تشې ترقنده ځېږې دي

○

دین همه واړه سره زړ دی
مذهبونه ټول زړ نیخ
دین ژوندون کا ندی غورځانګه
مذهبونه یې چار میخ

○

کرلاسی کندوان یې دک شول
چې جب جوب شول په خولوکې
ځارله هغو توریالیو
چې په خېز دي سرخیړ[1] وکې
غوړه[2] ټوله دې په ځان بړده
تش لمن که یې پسرلوکې
ساده ګوري ملغلرې
ځسا دندوکو خرخوړو کې

---

۱- سرخیړي = سرپټه ، ۲- غوړه = تومت- ګرم والی - ملامته

دا چې ګوابن په ستورو کېږي
ته هم راوړه څه نېزوکي
څه ناویاته چاره وکړه
مېرنیه! په تلو تلوکي

کوریمار[1] چې د بمبل وو
هغه سر په مونډو[2] دی
کرولی[3] چې د باز وي
په لولکو په شوغو دی
چې د برید او د غدې وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې پرې ښایسته وي
هغه شرم د جرګو دی
چې ښتن د لوی اخور وُ
اوس د پوچو کښېدو دی
د تیرو تورو بور[4] کې وُ
د بې سترګو د کندو[5] دی

---

۱- کوریمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه کې ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تیلې خمې نه ښکته وچې ګېټې لوېتی، ۳- کرولی = د ښکار ځیرکولی، ښارلود پاره د باز تاویدل راتاوېدل، ٤- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځینې نامـــــنده
څه دخوشو عقیـــدو دی.

بازداري يولـوی هـنر دی

ته په يو ښيله[1] بازداري
چې نه لـري جـب
په نامه باندې ميشکاري[2]
تش غر بازو وته ناست يې
څه که ځوې د لوی بلاريي
ته ميرښکاره کرين غــواري
په ښه ښه مـــرداري
يې په تـومنه له و يــارلو
خو په چاروکې د ويار[3] يې
له قـرآن نه غـير هـــذا
بې صلوة مونځ گذاري
کله سرکړيوان ته کوزکره
چې داولې دومره خوار يې؟

---

۱- ښيله: د څرمنې لاسمه چې د بازکښېنولو دپاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار: بلزوان، ۳-ويار: شـرم.

چې ټول نه قرآني وي

دا سړي به شهسري[1] وي

دا تنزري تاروګي به

بیا بازونه وهندي وي

دا پرېوتي، دا انسټ[2] به

بیا ښبسترې آسماني وي

چې نومړی په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د نن شخولې[4] او کاټي[5] به

صبا توري او توبري وي

په ونډې[6] ځمکې د نن به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بیلتون وي

نه نها، نه زمایي وي

یو آدم، یو آدمتاله[7]

په کړن رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسړي = سترسړي، ۲- پرېوتي انسټ = بوهتي دي، ۳- آدمځي = د آدم زامن،

٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تیکي، ٦- ونډې = داسې حلال کړې ځلروي چې پکې خلقو برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول اسټوګني (ځمکه زي یا آدم زي) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمخوني[1] به يو كور وي

وران به كوركې كوركي وي

درناوى به وي په جسو

سپكاوي به بې جسې[2] وي

نه مړی نه به څښتن وي

نه به غټ، نه به نري وي

نه كاواك، نه به بې واك وي

چې الله به ټولواكي وي

ټولنوال به ټولنوال له

رب، رحيم وي، او ولي وي

هم به يې كسب خالقي وي

هم توره[3] به يې رازقي وي

وي پاخون لكه يو تن به

يو ټاله به مختګي[4] وي

له ختيځه تر لويديځه

به يو ستره ورورولي وي

په حدونو د كتاب كې

به د عقل خپلمخي[5] وي

---

۱- آدمخوني = ځمكه، ۲- جس = وړتيا - اهليت، ۳- توره = قانون - توره - تړلې لاره - لاره، ٤- مختكى = مخكې تګ، ٥- خپلمخي = خپلواكي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځاریږي به له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دي کړو وړو
به یوه کعبه مونده[1] وي
له زړها اوړ اوړکو به
د حړي یو رڼهایي وي
سره ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستړواکي وي

ستا خیری درست کائنات دی
ته لاکوز په خرخشتو[3] یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښتنو[4] یې
ژوند له تنه کړونیز[5] دی
ته ځان ځانې به تړخو یې

---

۱- مونده = راکسل ناوړه - د غوبل د مینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر - د بنیا دم نږیتره نور ټول کائنات ۳- خرخشتي = جګړونه، ٤- دښتنه = دښمني، ۵- کړونیز = په کړه هستیدونکی.

ځمکه یو کور ځکه نه شه

ته ترنن د کورکوې

یوکور[1] په واړه آدم دی

تن په قام، په قبیلو یې

دیوې جګړې زېږنده

د جګړو په بیل ګلو یې

کړه بنا یو آدمتاله

وران کا پولې سرحدونه

د خپل تن جګړې کا ټولې

دا خواره واره قامونه

ستامرام یو وروولي ده

نه ملګري ملتونه

یوبیرغ په ځمکه جګ کا

کوز کا واړه بیرغونه

داوسلې د مرګ لاهو کا

سُرد امن کا تارونه

پدې ځمکې ـ آدمځونې

بیا برسیر کا جنتونه

---

۱- کوړمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا

نور ونغاړه کتابونه

بیا آزاد په آدمزاد کا

پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپېړ سور الوزي

ډېر ویزاره راپرېوځي

له دې چې قند نا تار به

هم پاخه بښختې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي

چې یې ساه دلینګو وځي

راخوړ شي پرې د لوړو

او په خوله ځوځې ما ځوځي

د قرآن دعوه خو دا ده

چې مؤمن په هرچا بَردی

دعوه ګېږ د کتاب ګوره

د همه قامونو لَر دی

۱- سرتوره = د سر قانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په تـــړلنې
دي ګټونکي په بايلـــــنې

د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نه بېښـــــنې

د ماړو کوښي(1) جوړېږي
د تش بانړو(2) له څـــرمنې

د زردار مـــاڼۍ ولاړې
د کارګر په تـــنې پـــلنې

د ډکلاس(3) سپينه جامه ده
د تش لاســو په ريمـــنې(4)

بده ورځ د لـــولنـــګرو(5)
دازل نه دی ليکـــــنې

د باطل تولنــه پايـــي
د مذهب په سروينځنې(6)

---

۱- کوښي: پېزار، ۲- تش بانړي: نيستمن، ۳- ډکلاس: چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه: خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر: بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتس نه لري، ٦- سروينځل: ملاتړکول - پلوي کول.

○

وګرې ټول که آذرې غوارې
ځښتن له تا نه خلیلي غوارې
د فرعوني سپاره کوزولو له
واړه وختونه کلیمي غوارې
په تشو ټیکو که کیږي کیږي
د ننګ ډکر لا شه ځلمي غوارې
وګرې ټول سر قوي او پایې
حق د میړه غوندي ځوندي غوارې
ښکیلاکي عمر د خارو ودې ګوري(۱)
ځوندي آدم به مخ کښې غوارې
د اباسین خونړې نیز او چلي(۲)
د جالیوانو سر هنګې غوارې
په هسک او تل د حقیقت لټول
تل سر ببري لیوني غوارې
چې د ځښتن لاره د ب کولي شي هم
ځوند داسې زین او هک سرې غوارې

---

۱- وګورئ = خبردار ، ۲- نیز او چلي = سیلاب او چپې.

○

د هګ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزاد کانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کند کونه به پرې ناتار کړي
کله چې که نتولې زمري ته تهل شي
غښتلي متې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببری هو دیالی پا ځي
په ریزکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې ښار دی
چې د حق دلارې بېل دی
په دنیا، په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ویار[2] دی

---

۱- ریزکی = کوچنی - وړوکی - ناشی، ۲- ویار = شرم - پیغور.

چې تیغه[۱] کې حق ته و لاړ دی

د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړه» ناروزونکی

خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوري

ګل ورین هم تن ار چار دی

په توله چې د ټول ژوند دی

حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی

نو په خدای هغه مخدار[۲] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې

شیخ ملي وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تپي وي

لرې برې نورې لرې

د ټولنو د لرمون به

زرینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کرږوړه - نقش -

۲- مخدار = روپدار - دروند.

شي ځوړلي خلقي به

بې دولتي[1]، يوه ځړي[2]

درپه درخاورې په سر به

پرکښې وي لولنګرې

د ټولو لو ښارو دا –

خپلو بدو له اشرې

عقوبت په غرغنډو شي

چې دکيا[3] وي اورد سرې

تالا تک د ادم اړدی

په يو ورځې برابرې

چې پرې دروي کائنات ټول

ستا هم هغه لار مخبرې[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

داچې خان خانتوره[5] بولي

داچې هرچېرته شمله دی

نيسمنان په کمنډه[6] نيسي

وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولت = چې دوله نه لري، ۲- يوه ځړي = چې يوازې وي، ۳- دکيا = چې لوګی کوي،
٤- مخبرې = په بر مخ، ٥- خانتوره = خان چې ټرل پرانستل کوي چې د توری خان وي،
٦- کمنډه = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وايي برياليو
نور په برخه شاگنده(1) دي
دوی له مخ د خدايه رغ(2) دی
نور له پښنو يې زيږنده دي!
کومه تورهٔ يې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د بېسنو کوم گناه دی
چې نيمگړي، نيم کوره دي؟
او په هره يو ټولنه
پړهٔ، پرېوتي او روږه(3) دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم‌زی ټول يو حجره دي
له يوې حجرې راغلي
قام، قبيل، ټپه ټپه دي
لوړ ژور دی له زبېښاکه
شته په نيشو(4) آلوده(5) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمن را زرغونه دي

---

١- شاگنده = چې شايې لګېدلې وي، ٢- رغ = جوړ، ٣- روږه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نيستمن، ٥- الوده = ننښتي- اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور دننه
په پاڅون آخر موسیٰ شي
دباطلو ښامارانو ټول
تارپتاريي لهٔ امساشي

○

عقل لیت دی، دیو کې ده
پرې قدم قدم رونېږي
کلیمه هغه شهٔلیت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توری هرکله ښروندی دی
د وختونو په آسمان يې
په ځلا ستوري سپوږمي دی

○

د زړه وپېړ وکار ونه نه مېړونه به بیا بیا کړي
شاه مېړه کړي هغه چاري چې پېړۍ پس يې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلنۍ(۱) سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هودیالی نېزه باز کوږه
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تېرې ته
د زړګي(۲) زمري غورځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې څنګ کړي
ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بیا وریا ئې جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره — رپې د سترګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لیتون کې — ترعمرونو سرغونډک کړي

---

۱- پلنۍ سوری = په پسات پلن، ۲- زړګی = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
دآدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او ژوندلویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوند ینکی
یو موندړی[2] زړیم اوده دی
د بدلون پدې څانډړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مړې هدایره وي

○

د بدلون پدې ناتارکې — هم یو زړیم « دې څوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده — نود « زړیم » دی موندړي دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- څانډړه = هڅتړ - فویم سکلیټ ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی .

○

پیرخواره[1] یې له پښتو یوسي
چې موندی یې وي اومړی[2]
دکچیه "زهیم" آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له "زهیم" پرته
نور هر څه چې دي نوري بي
له هر زبڼړی[4] د هجری نه
لکه ځان هسې راز بري

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د "زهیم" په غبرګون دی
که وجود دی که ستونه
کار د "زهیم" یې پاځون دی

○

چې د "زهیم" په شرنګ نه دی   روزنګوی[5] د بدلون دی
دهجوو په کږ کږ اوسي   او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتي = جذبات - غریزې.
۴- زبڼړی = هغه څه چې زیږېدل کوي، ۵- روزنګوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت يې خوري تالېزه[1]

آدم نهی جدا جدا وړي

د ځاني سود غم خوړونکي

له حق لاري پښې پښا، وړي

چې په نور و خپله ويش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نوروته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه ښکلي

د خوارلو چې دعا وړي

چې له خپل ميوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ، په هغو واوړي

---

۱- تالېزه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

د ژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي

د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي

کتابونه دې ردجېل
سوزول او بدول دي

د آدم نه دې یاد کړي
د عمرونو هېرول دي

که مذهب یې هم سره وینځي
چې باطل دی نیښکول[۱] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي

په هرپل د پرمختیا کې
برابرا[۲] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نیښکول = ورکول - په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سندان تندي به چرې کرونجې نشي
د درندو پلکونو جوړ که پرې ناتار وي

د مېړه نېستي يو څو ورځې نېستي وي
نه مېړونو شاعري نېسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې هم ښه له
ښبتنان د غرځېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چټي[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې داغږنګ بازدار وي

چې توره[2] د حق ملا[3] نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې وړلے بويه
که رڼا يې لا ر ليدلو له پکار وي

د رباب خواږه دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چټي = ورکوټي مرغۍ
۲- توره = قانون - لاره - منه
۳- حق مل = د حق ملګري
٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه

ابا سین کله پسنه نیسي له غوړځنګه

چې تر څو د ظالمانو نوغی شته دی

حقملان راپستنه شي څنګ له جنګه

پوهګړي د بې پوهو نه قلنګ خوري

او تول لاندې د کلیمو[٤] تر قلنګه

چې یې مټ د غلیمانو وي کتلی

نه ویرېږي یې له تشه ډنګه ډنګه

د مردي توره میدان کې لاسنه کېږي

خلاصه نه وي د کاټي[۱] توره له زنګه

پڅپل زړي کې زرغون شه او سمسور شه

څودې نه ده لا کوټي[۲] خاورینه رنګه

چې یې جسم وتن په مور کوبه پرواوړي

خو دغه ته وي کړنې د جهان تنګه

---

۱- کاټي = تیکي - چړتون

۲- کوټي = د دانې کڅوړه

یوبری دیوجنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان برېښنا اوتالندي که
چې دلوی ښتن د لاسوسره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجروېه جماتونوکې تورتم دی
د ډیوې غوندې لنبه دې په تندي که
د میړه دځوی آوازله خلقو بېل وي
څوک به یې خندګه په تولنګې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به ښنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د ښاروو به ښنګه وځي
چې په مینه مینه ښت ته غوږوندي که
چې یې وینځ د نهورنې له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغــاړې
له خپل تنه پلوا[۱]ښه شــه
د ټپانده اباسین خپــل
لکه غاړې په ســاته شه
د کړیږ سختۍ په ځــان کړه
پسته باز په الواتـه شــه
په خپل ځان قیدونه کېږده
زرغونه شه او بیا شته شه
پولې ړا ښکه، پانګی[۲] کېږده
بیا په زغاښت لکه میږه شه
د څښتن د لارې مل شه
له څښتن ځنې لاړ[۳]غه شه
په ړیبلوچې ورک نه شي
په لو[۴]ښه لکه واښه شه
د ختیځ له الا الله -
لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مروړي - پلکواښه، ۲- پانګی = میړ- ډکځ- مرام
۳- لارغه = لرغونی - وړاندې، ٤- لوښه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان ګډ دي

هر وګړی لوی اوکړ(۱) دی

لولنګو څکه په نیش دي

درناوی چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه دله(۲) یې مله(۳) ده

د هغوسوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د ځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډکیا(۴) سوسر(۵) دی

---

۱- اوکړ = اولال، ۲- دله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ۴- ډکیا = لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو اوږچې نری نری لوګی کوي.

چېچې ژړانه ښکي بدې مېنې
وا به نه خلي تورې څڼې
په ګڼونو يې پسرلى شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې ئې نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوې
د تور ګټ سوى ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو ختې يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصرۍ تورې دي سمې
چونګ ايره يې پاتې شوې
وي انکار د درنې ستې
حق ننګانو ته وريتېږي
د بې ننګ هر کاله بتې
لات منات چې ګذارې څوک
شي پخپله يخې ګټې

خړي، ځکه شوي، خيالي نه شوي
د «لا» شي ځني شی نه شوي

د جسن ترغی نه تا مینده
تل نچه شوي کنی نه شوي

تشه شخوله - خالي تیکی
بمبل توره، توبری نه شوي

له حجري تر سري راغلي
لا په «زه یم» سړی نه شوي

له مذهب چې ملستل دی
لدې مړيني ژوندی نه شوي

انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوي

مبنګیری درته آسمان دی
ځکه باز، باتورزی نه شوي

هر آدم چې دی فرعون کړ
یې بلواک، ځانوکی نه شوي

---

۱- انځاړه انځور- زړی- نقش
۲- ځانوکی = ځانواکی

دوکړو سالار پـــړدی
خرسواره چې شاهسواران کړي
دکوشولاروکسو دري
څلن ستوري دآسمان کړي
ګوکوشتان داومـوختنو
سندان سري اتلان کړي
لوړاوکوز سره یوسیال کړي
اړوپېچ[1] وله یوځان کړي
چې سري یې نه سړي کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
دلالونو په څلقولـــــو
دمشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکي قدریږي
راد بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټـول
په ریښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ ـ خپلوکې په ضد ضدی ـ په غوټو پړنو.

په میروکې د ببر کلونه راټوکېږي
سره پېوینو د لاله پکې جوړه ده
ننګیالي دي چې دلوی خښتن په تاریږي
پوره ټکړی د نړۍ توله باره(۱) ده
ته تنزړی یې، دنیا ده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره(۲) ده
غزا وشوه که په نوم کلیمه ګویې
زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده
هوښايي(۳) په تپوروند دی، ښکار ترشي
که نه یې نن هم پرته هغه دوګزه ده
د ګزی غشی(٤) دې هر وخت په سر دی
په دیدوان(٥) باندې دې اره پره، وره ده
صبا ښکه د شولان ګټو ته مټې
که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واري - پره، ۲- اداره = وړانه - ګټې - لوټې،
۳- هوښايي = ښکاري، ٤- د ګزی غشی = دوړې پرې ګوزار،
٥- دیدوان = شیش - څیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کور هسې یې غار

لکه اوبه هسې یې سوړې
لکه پښه هسې پیزار

لکه باز هسې یې مارې
هسې باز لکه میښکار

لکه ږیره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار

لکه توره هومره کټه
ژبه هومره څومره کار

د اوچت الوتو پانګې
د شهپرو په مقدار

د ډیوې رڼا تر کوره
نمر په ټول جهان اوڅار

د بې ننګه په رنګ ډېر وي
ننګیالي نه لري سار

چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړیږي لار

لا پې ډېر وکړي کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار څند یږي
د مت دار و وي بې وار
د زمـــرو ند اخستلی
سوړلنډی[1] شي کله ښکار
د آتیانوس باری وي
په مـلخانو کړمـــار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو ونه‌کار

مذهبونه دی پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپـلي مــاتي بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب يې رواښته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دی عبث دا نخښو ونو کـــــراوونه.

---

۱- سورلندی = کیدر، ۲- کړمار = یوغردی، ۳- غربین = یوتوپک،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ٥- رواښته = وراښته.

له مذهب يې چې تودې وينې کتکل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي يې په نيش دي امتونه

د مذهب دغونډلانو[1] تنستو کې
ګل ډيوکی[2] دي دعلم د پوهنتونه

له مذهبه هګ ځلمی ټول ړيزکي شي
ړيزکونه کله کيږي لوی کارونه

ټکی ټکی دکتاب نن هم هغه دی
خو مذهب تري نه وښکلی دی ساهونه

چې ترڅو دغه مذهب او د ملا دی
وي تالا به د تالا قامونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردي ده
توربازي دی تيغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غمي

۲- ګل ډيوکی = دګل ډيوي

له فطرته دي پرده ده

له فطرت دي سرزوري ده

کليمه دي سرتوب دی

سرتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کليمه بيا خلق ژوندي که

د الله وارو ورسره ستو شوي بيا لومړي که

دا چې خاوري يې له مخه نه چانهيږي

د سپوږمۍ په دود غوړي يې پرقندي که

ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي

له ټولېز ژوندونه ورکه ګوند ګونډي که

شاه ميړونه له زړګونو ستوره تېر شول

بيې راښکه خپل ملګري ګړندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کړ پندي که

د پسرلي درنه ورځه شه په خوی کې

ځان ورښت، کله بربښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
د سترکوره وکاګیره تلل نه ده
دا ایلتیانو[1] کلي ورانول نه ده
د راسمانو يې سمول نه ده
که اوندي[2] جوندي د دوپړک[3] وي
دیکرنګانو غوښی کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب يې ځای ته برخېژول زده
چونکو رنګان هم کراو لي کړي
لکه بازکله اوچت وهل زده
چې فرعونان يې موزي[4] کران کړي
نو کلیمان يې تورنه نول زده
د آذرانو بتکورکي[5] ښتول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وراني پیداکوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغروني چې غوښې نه يې نه وي، ۳- دوپړک = دورنګ - منافق، ٤- موزیکی = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړې ډک وي، ٥- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په څوشهپرو خپلولو
منګيرک او غليوانه باتوريږي

ديو بُت په لړيدلو بُت غليمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدليږي

له کيکره د نښتر پيوند خوړوکی
نښتر هيڅکله نښتر نه پاتې کيږي

چې په پوهوکو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژونديږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا وي
دغه سوي چنارونه نه تانديږي

د قرآن واړه ربتلی عقيدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهيږي
د تيرو سره ملستي بناپيرکۍ نن
د رڼا په تکې مرګۍ ته ببريږي

○

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه يم" سرهنګي يې سلامت يه
مرئيتوب نه - ملګري د يزدان غواړي

ننګيالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنيا کې يو کار هم ناشونی نه دی
يومخيزي(۱) ځيګروره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسير د قرآن غواړي

په لښکو د ليښتينکو کښتې نه شي
د ژوند ستونځې مېړني قهرمان غواړي

په يو ماره که کاوزشي، سود يې نه شي
چې ژوندي وي يا نوی ماری زمريان غواړي

---

۱- يومخيزی = چې مخ يې يو وي - د يوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کړاولې کړي، یرغلونه کوي

لوګینز[2]، اوریزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهیزونه کوي

رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن
بریښن د ژوندي تومن غونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرانول
بر هغه قام، چې دا کارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو سترګو معاشونه کوي

عقل بهیر کړ غورځنګي د شعور
ویږ ویراني ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټانږه دي سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګینز = د کاروریځ یا نیبولا،

۳- اوریزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په خنګي، فطرت په ترڅې
تشې ځاندې وي، زور يې اوبه وي
عقل يې شل وي، هڅې يې ګټه
په غتو کوري، ولې ړانده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو قط نه وځي
نه يې خوار وي، نه يې تراخه وي
په نن په "زه يم" د وارو نيستمن شي
ځوراک يې ځساک يې ځواره او خسبنه وي
په زاره شخوند کړي، نوی ترې نه شي
نوی بريد ونه خود مېره وي
چې يې راغوند کړي وار کړلي
ديو ګنجکي دارز سبت نه وي

○

دلسوکین و دلرمون نه
اورین ستوري راغونځېږي
ستور تلیزي سروهي لا
کائنات لا پراخیږي
که یو ستوری ورژیږي
نوی سل راوتوکیږي
د ژوندون زرغونیدو له
نوی ځمکی سادینیږي
چرته ژوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانیږي
د زرها ستورو میرو کې
د ژوندون غږی غږیږي
یوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستیږي
شنخړي ځمکي سنکته بورته
ستور تلینوکي څرخیږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دي لاس ور ورسیږي

عقوبت به له دې څمکې

درته کړي په سر کیږي

د مېږونو ستورو بېړۍ دي

له سپوږمو ستورو تاوېږي

د یو نوي کور لټون کې

د آسمان لارې چاڼیږي

عقوبت دا څمکني به

ستورګ زو ته ورسیږي

د ښوندون څومره رازونه

به په ډاګه وغوړیږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لاوالا سره چي کله يې برغون شي

دعبرت مړي يې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چي له کليم په ستور بېښون شي

داولس وینې نه بېښونکې هله ورک شي
دربړیا[2] اولس چي کله په پاڅون شي

داو یارلي ځلي هسې ولاړ نه دي
دمړدي کارونه ډیر په شواخون شي

چي په سین داوراو وینو شي وریږي
قافله يو قدم مخکي دڅرونډون شي

که هرڅومره سنګرونه له ځان تاوکړي
عقوبت دځمکي تبې هرفاروڼ شي

چنيښني[3] عقيدې چي غاړه باسي
دهغو خلقو ټولنه مړيستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،
۳- چنیشني = چي چناسکي پکي شوي وي، ٤- مړیستون = هدیره .

O

د دوران په زلزلو غرونه راغړي

په شکلني ډېروکی څه له وياړېږي

تلناوونه يې رواسته، موږی خوړلي

چاڼ کېږدی کې به تر څو پورې اوسېږي

د پرنسبتر په چورلندو ځمکې له تللي

کڅه ډهلي! په خپل خېږڅه غلطېږي

د سور سين چپې دمه وښکه له يادو

ای فرعونه! چې کليم ع پسې پاڅېږي

د ملخ څانګ سړه دي ملا شوله دوه غبرګي

ته لا ځې د آتي بارته لاندې کېږي

لا اله بتکورکو ته سنکر پوکل دی

که مؤمن يې تر وروستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټې را تلی نه شي
دوی د هغې سرخېړی[2] وتلي سر شي

د هر کور انغری تود، تیاره شي ورکه
مېړني ځلمي په هر لوري چې ور شي

له تونګه[3] د عیسلی چې نمړې وخوري
که د خټو کوښتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چینی هم د بدر لېچور شي

---

۱- لړ= کوز

۲- سرخېړی= د جنګ غالی سرپړه

۳- تونګ= شکور

○

دغلیم د برید او چیغي[1] حاجت نشته
لاس تر کریو وچي پخپله سنګروال شي
د کور، قام بدخوړمنځي[2] په ځان ناتار دی
په تیغه که باتوران وي تش پېخال[3] شي
تا ننګ د کتي، د یرغل یې د لاس وځي
چې د چار اتلو ننګ توري نه اتال[4] شي
ځلمي واړه په خپل اصل دي لالونه
د روڼ لو چې څوک نه وي کوتي لال شي
جماتونه، مدرسې او چینې ډېر شول
خوله چا هغه بانګونه د بلال(رض) شي

○

چې د خاورو له کالبوته
او ده «زه یم» بربېړن شي
په اجل باندې بجل را شي
بنیادم و لاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه ، ۲- بدخوړمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ ، ۳- پېخال = د باتورغل - غرباز ، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار .

دژوندون دغور ځنګونو لوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی

د فطرت غیرت پرانستی ده هر چاته
بود د هر چا هم په قدر د خپل توان دی

دا په تاده جوړوي کانتی که توره
خپور چاپېره د جنګړ واره سامان دی

نیمګړتیا کړمی تولی اړ په مټ دی
مټ کول د بنیاد مو پور په ځان دی

چې یې زده د سور کو وینو کښېدی دي
د هوهی دانګه کمی پدې جهان دی

د باتور لمځی دنیا ده بېـــله بېـله
یو د ځوړي، بل دلوړي وړ(1) شان دی

چې سرهزی د نوښت(2) یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وړزی شان، وړی انوونکی، ۲- نوښت، پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" ټول رنګونه

یکسانه شي یکرنګ شي

لکه غونډۍ چې چړې شي

اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي

"زه یم" هله خان دوران شي

کائنات کړي د پښو لاندې

سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې

لکه بُت سلګون سرې وي

آدم زی شي سل لاریزی

له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسرکي
د هوډي هڅي و باسي لاري غرکي

توربرسینونه يې پخپله غماز کړشي
میره کله پټېدی شي په لښکر کي

"ستوروښا"(۱) کرښې د څمکي کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخېل دوتړ کي

مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلري راپنه کړېدي څادرکي

زهري خوره په یوماری ورپېوځي
بله ماره يې نیولی وي نظرکي

مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګرکي

هره ونه خپله میوه نیسي
چامونډلی دی کروسکي په کیکرکي

---

۱- ستوروښا = (یوه ژن د مرجونا) د ستورو ښکاري

زړه دار هغه کورکښان دي

چې ژوندي بنیادمان خوري

سړیخور په پټه یې نه خوري

سینه برسېر یې په میدان خوري

د بې پرسه کلو خلک

څه مُلا ، څه دوتریان خوري

یو وَری یې په شا پروت وي

بل شنې لښتې بارګیران خوري

د باطلو راجواړه ده —

په برمته یې بې کسان خوري

روایات راپاخېدلي

په حملو حملو قرآن خوري

د آدم په بدې ورځې

کلیمان وارو خپل ځان خوري

چې په منځ د هوډ یالوځي
لاړ يې خوډ کړي کړي وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اوره ځني و نه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوچه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګ ګرېز يې ژوندانه وي
د بوم د کې يې شملې وي

چې دمت مجال يې نه وي
د هغو نا ندرې ګيلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که يو موټي بنې وي

چې وهې د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژ يانې يې تاو نه شي
نو هغه لیندې پرېکې وي

چې وهي د تنکسې تورې
په هغو کاله تنکسې وي
سپوږمۍ، ستوري، ستور تیلیزې
د میړونو بر آمـتې وي
د سر هنکو غور ځنګونه
د تاریخ زر زرینې وي
د اخلاص د شا هسوارانو
منزل لوی، لرې توښې وي
چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې سـکې وي
په راسمو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي
پرناورې سنکر بایلي
وینې سترګې پلیتې وي
دو رنګ تښتي کُن پرتانه
چې د بدر ترپسي وي
د میړونو لوی لاسونه
خپله تورې او بلي وي
د کیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګي وي

Reserved -1

چې یې پښې وي غزولې

د هغو د آکې سپېړې وي

چې له ژوندو ماتې وخوري

زور یې تول په موسلې وي

د مړو ځواکو مسئولوکې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کوږ کړي

چې یې خپلې پښې کړې وي

دیوړوغ دسیالې نه وي

د ړندوکه پرکنې وي

قام ډلې ډلې تورو تور بریښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر ډلیت خپلې ډلې ته سنه وایي
دغه دستور د ډله بازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق به حق کړي
"قامي جرگه"[2] کې سوال د لیږه دی

چې "جرگه غړي"[3] ټول شته منان وي
واړه هېواد دی ونډې ونډې دی

کاواکه درومي واکمنې ډلې
څوک یې د مخې د کاواکۍ دی

د "سلاغونډه"[4] سپېڅلې لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي.

۲- قامي جرگه = پارلمان.

۳- جرگه غړي = ممبران.

۴- سلاغونډه = د شورۍ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شروند يې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چيلې ناوښکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "ډنګ قامتو" سراوښکلي
سالارۍ يې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د ښه سرپټوب ډنګ دی
هم يې کټه، هم يې مخ ملازې ورکړه
خپل پردي يې په نماځنه باندې زنګ دی
د زيارت خوږ دو ته ناسته بې کتابه!
ستا کوږ لارې ولايت د پلې لنګ دی

منکران په دليلونو منکران دی
او مُلا د بې دليل مذهب امام دی
روښان خياله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرځوان يې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي دکه
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړي توړي تر هېڅ يي، ځي په دده
چې مُلا ورښکاره کړي کوم اسلام دی
لېښتکي له لېښتکي مفکوري زېږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی
مذهبونه په کړي د نيمګنانو
دښته منو دخوندي[1] کتو سمام[2] دی

◯

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي
دي دهولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
داد ولاد دوران سر دی
دوتريان چې په کړ بادي
د هغو لپچې تاوېږي
له پېړونه چې په غلا دي
له زما، له زمانې نه
پساتونه په دنيا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لښین ترې لاس نیوکړي
شاه میرونه د الله دي
امانت داولیا دی
چې له تا ځنې سوا دی

چې دحق او دباطل ډغره راشي
دبې لارې پلار نیکه په لاره مه شي
چې توره[1] یې دبتانو لړولې وي
خدای دې وکوماري ته هغه میړه شي
چې یې غل غدو له ویرې بلوسه کړي
په مورچلو د قام ویښ هغه لیمه شي
چې مړه واکي ولسونه پرې رغېږي
که یې سل ځله توکي، هغه تارخه شي
څه زړغې زړغې کوې چاقهرمان ته
که ملا وترېږي، هغه توریال به ته شې
غرونه غرونه واورې هله به شي ویلې
چې دنمرېشان پرې سورپه اېشېدشي
چې یوه پلارگني ومانځي اولس ټول
ته به هم داولسیاسو په وله[2] شې

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په وله = په ډوډۍ - پښنه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ

بيا به هله دسرې په نوم بالا شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول

د قام جوشې بيا پلوشېنې شولې

د سربښندنې کرامت وګورۍ

د ازغو غېږې ګلورينې شولې

د پلار خېرې دې کائنات د وارې

کاش چې دې تورې بيا پلرينې شولې

باتورزي خپله به راوزېږوي

که دېروکي دې مابښمينې[1] شولې

غراو راغه يې ښخ مېلي ونيول

چې د زمرې ستوګې تندرينې شولې

د تورانې لېونې کوبکې سرې

ځانګې غرانګې سندرينې شولې

چې بيا په رحل دې کتاب وخاته

ذرې بې ارزه دې نمرينې شولې

---

۱۔ مابښ = يوغر

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي
او وله لوټني په پنډه کله پیدا کیږي

په خوبولن کي له بخرکو توغېدونکو
تو آسمان شړه کوونکي او تاند بېزي

چې ئې نو دتني وچ ،ځیلي ړوستي شي
په کړووږو شبونه راتو کیږي

د مذهب په کڅ خوړلو لختو لهړو
د سرسوري دقاموتونه جوړېږي

هکځلمی بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکونه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه
لار ئې نه شي رښولی

د بوزړم انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

○

د شړوندون او بزدي کیسو له کائناتا به چانول وي
له موجودځني پښسا به ترلوکیزي پورې تلل وي

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي
چې پرې کسرۍ وي وختونو
ګويا ځان لره توزيز[1] کړي
د کسورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نيم سول شته، نه سوړ شته
د خليل همت دې تود اوسه
د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقيدو سبا رکې
انقلاب را برسيرن شي
د زړو خدايانو مخ چې
ولسات ته کرغيړن شي

○

بتان شي دځمکې تبی
بتګورونه رانسکور شي
چې د زړونو په ورشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(1) توزيز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـــنې
د خدایانو وړکول کـــړي
نولومړي د دې خدایانو
خدایي ورپوچ کول کـــړي

○

کلیمان د فـــرعـونـانو
پاچایي هله غـــوزار کړي
چې بې لاړې ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

دکلیم د درنې پـرګـــې[1]
خلقې وې وار زبـرګې
هم یې کټـه ، هم بخښـنه
هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړی کـــړی کې
پڅای تینګ لکه د غـر و
د خپل پوخ «زه یم» په مړسته
د همه پرګنوســـر و

○

۱- پرګې = پرګنې .

۱

اوسني تش د عقل انديښنو سره

ځي په تياره لار او ور او ور کوسره

عقل که سقراط دی، بريالی نه شو

ګرېوې په لاس د بېشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې ېستل

دل يې چې سپوږمۍ ستوري کړل پښنو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډکه يې

لارې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځي

دروې دې نيلي د بړېو کوسره

وينې اوښکې وچې شي لنبې کښېني

عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه

مل شه ای ځيرکه کليم زوسره

آدم زی له مریٔتوب ځني آزاد کا
د "ما کانَ لِبَشَر"(۱) سبق ور یاد کا
چې د بل د خولو ورزم تې راخېژي
د هغو ماڼو کړکچو خوړ بنیاد کا
د آذر د بُت خاني لړولو ورستو
شړی ورا ور ځه کورد خدای آباد کا
چې صبا په غر قبدو شي کلیم والي
د دوران فرعونانو ئې خدای رایاد کا
په لوخړو کلي پټ، په وینو ډوب دی
د کوچني فکر سالار دي څه فساد کا

د مري په ځای ښتن چې زورور نیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کړیوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کېند کچلول کا
لا اِلاّ چې یې توره شي د تهولـني
هغې ډب به یرغلونه د منګـول کا

---

(۱)(ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولو للناسِ کونوا عباداً لی ...)

حق باطل توري تور بریښ دي تل راغلي

حق به نه وي چي باطل سره نیم سول کا

د پر قامونو نه دي غوندي اوبو وړي

په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا

رسیدلی په خپل «زه یم» شاه میړونه

باچاهي زرغون د خاوروله کندول کا

دا کاني یوازي تېر و خلقو نه کړي

خلق اوس هم په ژوندون لو نه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره یخواره دي

په پېر دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چي ځانګړي سود پسې پې شي وګړي

په ټولنه کي سورا و ور په غرغنده وشي

د شته منو شته مني چي خُمار وکړي

انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چي بې وس دې دو سدارود سیالي شي

دزرداره تپې دا کله پیرزه وشي

دو تریان د لولنګو غمونه نه خوري

له لېوه کله زره سوی د شپنکو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر داري د پردو وينو لوى اغيړ دى

اغيړلي عقوبت په چا ودېدو شي

الا مي د او بښتون د قلِ العَفو ؟

دوترونه چي ورو ورو په کمېدو شي

هغه کار چي کليمانو ته اتصال دى

هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له د ستور د باتورانو چي بي پړک دي

خود په جاله کي پيدا يي مښنګيرک دي

چي يي ژوند د خدائ لاري په لاروي

هغې سيال دى، هم برخين، هم په خپلوک دي

د مېړونو لار داکي آسماني لاره

مزغړو ته لاري تل د دوېړک دي

له ساده ايمانه ځار يي فلسفي شه

څښتنان چي دلروکي د بتک دي

شپنکي کوره غرضونو شرمخان کړل

په برمته ارم په غوښود کندک دي

د ننګيال وارم کارونه هلي ځلي

د نېښمنو، بې اسره وُ په کومک دي

تورښنګلي[1] پرې برې راولې نه شي
چې د بدر، د حنین توري ترملا دي

الاجي غونډې دانه راوړې یوځای له
شاه ځلمي له شاه ځلموکه پاچاشا دي

ننګیالي د سرزړوکي د تور سرو
ننګیالي جګې شملې داولیا دي

فرعونان یې چې په مکرکوټ ښکارکړې
زرکول یې بیا کاروڼه د موسیٰ دي

یوکتاب وچې امت پرې ټول راټول وو
یوکتاب دي، اولړوه[2] دوه اویا دي

هر ډلیت[3] د خپلې ډلې د وزن[4] وایي
اوامي خلق حریان، چرته رښتیا دي!

---

۱- تورښنګلي = چې توره ښنکل لري د باطل ځواکونه .
۲- لړوه = ګوندونه - ډلې .
۳- ډلیت = د ډلې غړی .
۴- ډوزن = ثنا - صفت .

○

د ژابزې(۱) تنګسې کړښې کې

ژوندانه کله ځائيږي

ژوند غنې بېږي، او چتېږي

ژابزه خورې او سمسوړېږي

د زابزې وجود خير دی

چې پرې "زه يم" شيرازېږي

د وجود دنيا تاغير خوري

"زه يم" کله تاغيرېږي

د خښتن په لېکه "زه يم"

خپل قامت وته رسېږي

د زابزې ځاندره شي ړنګه

"زه يم" هر کله پائيږي

○

د لـه د خداې ماتې خوړلې نه شي

څوک يې ترلې پرانستلې نه شي

توره به ستا د موزيکي توره وي

د مېړه توره پخېدلې نه شي

---

۱. ژابزه = (لکه واو ژابزه) ماده - چې زېږ ول کوي - Matter

د ګيدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نيکه ده نو هم
خليلان غلي کښناستلی نه شي
چې يې بيرغ د الاهو پېړي
څوک په سنګرېې ورختلی نه شي
زمانه هرڅومره که مخکې ولاړه
له کليمانو مخکې تللی نه شي
دغير قامونو دکټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کښېنلی نه شي

د خيګونو[1] خاوندان چې اړ وېيچ شي
رسوي به څوک جاله وايه څوک درته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بيا څوک اړوي بلار ونه پردي ورته
په زنارکې تسپې وپيلې خلقو
يو مخيزې مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خليل نوم د ثواب د پاره اخلي
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

---

۱- خيګ = شناز.

خدای دي توان د مېړنه یات د شاځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غم ته
د کلیم د پېرې خلق هم هغه دي
نیمګړتیا وې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېښوار د محمد(ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دي تېرې بیا ورولي
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلي ستهولي
د کعبې په توره کټه لوظ کوونکو
د سرونو په بازو غاړې خلاصولي
صدقه د وینو سرو د پښتیا لو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولي
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیانې کله چاکولي
سمندرې خیرې غوڅ کا خپلې غېږکې
که او به دالکه و ورځې ختهولي[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سره ناست دی
خو که ستړکې لېونو بیا وغړولي

۱- ختهولي، چې د ختو لهو ړکي وي.

پخه مه شه د توریال د مېړدي توره

د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د شړونډي مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي

بې لښکرو کړي را لاندي هېوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی

چې راځي بوړبوړکي انقلابونه

یو بیرغ د محمد (ص) به تل رپاند وي

نور دخیلمې[3] دي باد وړي بیرغونه

هم پوهنګ د کلیمانو پوخ تلن دی

راژېړي نور اومه او پړنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوي شي

په غړمبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې

بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،

۳- دخیلمی = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،

۵- شناختې = خازي

د هغو قامونو بڼه[1] د بدلې شي
چې لېندۍ يې د ظلمو شهوتو پرکې شي
چې يې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوږې جنګړې شي
راسمني د مشرانو چې يې نه وي
بې درنې پګړې پلرينې يې سبنې[2] سبنې شي
لا شه تورې بنيادم تښې کاڼې شي
چې په برخه يې بې ژونده عقيدې شي
د شاډو غونډې پېښې کړي د قامونو
چې يې جس د نو ښتون بسې بسې شي
څه په چم دې له خاورينې ډېوې ګرځه
له ډېوې نه عقوبت بلې ډېوې شي

کوچ شومڵې[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د ژوند شاربل کـــــړي
د ميږو لاره يـــــــوه وي
چې څه کاندي هغه تــل کړي

---

١- بڼه = رنګ، ٢- سبنې سبنې = ريبې ريبې، ٣- شومڵې = ترږې- شلومبې ۰

چې په لار د شهزاده[1] شي

هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره

چې دستور د کلیم خپل کړي

دره یونیم په نیزه وړي

که آسونه دپر تېځل کړي

د ښې وروځې په تکل کښې

خلق توري هم کالل کړي

د کالا کوتر وته کوره

چې په نمر پسې غپل کړي

o

د باتورانو نوغی[2] دې خور کړ

دره دې پاتي تش پېخالونه

دلبه[3] مرداره ځندوې لاس کښې

تش ټپوسان پرې کوي سود[4] ونه

د چتو ښکاري دوګزې نه کړي

هونايي کرځي نیسي بازونه

---

۱- شهزاد د = کیاولي دکتاب نوم، ۲- نوغی = اصل - نوغی خوړول - بیخ ورکول، ۳- دلبه = غوښنه - طمع، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وې د باتورانو
نه ښکارې هغه دنګ نښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وایې کوم کتابونه؟
غرابین زنګ شه، او توري پښې
پاتې ملا دي، یا یې بانګونه

وګړي ګوره په غوږونو وپړزو
نمرې له یوبل راشوکول کړي
کارونه واړه دلاس سبري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندلی کړي
دشته منانو د ینګان راپسه دي
دښمنانو ونډې ویشل کړي
یو پنجور هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګیا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې رانده شول
څوک په اوبږ مکو[2] کې شونډوهل[3] کړي

---

۱- خمڅې = د نرو جوارو ډوډۍ - خوار خواړه، ۲- اوبږمک = غوړه زیړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډوهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري یې نه.

د قبر ځای د لوحې نښته

ځمکه وال ځمکې ته انتقال کړي

دومره تو غوښتو د روزې خپژې
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلا وا رېږ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپو روا وپلې سره یو سیال کړي
هغه رښتینی کاروان سالار دی
وار ته دي شعله زرغې زرغې کړي
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
ميرې د عقل، غو ښې د ښکار خوري
د عقله پلې پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته ترخه تو یزي
یو څو ماره دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی
یو سرا و بل سر عالم بې لار دی
د ننه په تن کې زړې زرغونه کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بېلتون کله ګوند دی
کله مل شه د ټولني کله بېل

که دې زور د زماني بدلولو نه وي
د دوران کوڅړې خوره او شه بدل

د رناوي او سپکاوي په جسوار دی
ستا په لاس ده که ګني او سې که نل

تشه توره ګوري لار د ګټې نه ده
توریالیه! چې څوک شولي حق مل

ساد، هغه چې په خولو يې د تندي خوري
تيار خوړ کړي د همه ولسيا غل

ديګر نګو ګوګل پاک وي تل له ويرې
د رغلان او د ورنګان وي په زلزل

ته ويله وي چې کوچې ماهيوان بار کړي
اوس وهي به يې د ايلبند شمال او ربل

حقتولني ځني پرته هر نظام کې
بنيادم له خپله ځايه راغورځېږي

دککوري د سرې توکرې د پاره

آدم زوي بل آدم وته تيتېږي
يو شته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نيستمنان خو په جغ شوي تل اوسېږي
د ناچارو کټه باندې کټوي باندې
د چارمنو کټوي به اکتې پخېږي
د بې وسو د خولو په ترموخا څکو
د وسدارو ماڼي رنګ، خمې دکېږي
د رناوي چې په موړۍ[1] يا په دوترو ي
لولنګو به په کنځکه خود ارزېږي

بې اسرې آسمان ته غرېدې غړېدې ارې
په ظالم چې به لا ګله نسکورېږي
په زوخړه به يې غرونه شي ټول ويلي
په لړمون د ځمکې داسې اورختګېږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شته پسرلی دی
بې ټولنې بنيادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنيزه ژوند سمسور د سرې جس کا
د ټولنې مدعا وارې سرې دی

---

۱- موړی = پانګه،

په تولنه ریزکی لوی قهرمان شي
بې تولني قهرمان هم لیشتکی دی

چي تولنه دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولني سره مل، دځان ښارن شه
چي ستا «زه یم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چي تولنه یې باره(۱) دارتیا(۲) ناخلي
هر بنجمي خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نه یوه کورمه کړي
د یوې کورمې خوتل یوانغری دی

◯

دا زغوله ویخه ستړګې را توکیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څو ویړیږي
سري لنبي د خلیلانو خوراکه وي

سامري دزرونو پت غلونه را نیسي
د مزیو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتاریې دوختونو نیمه خواکړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیکړتیا- کرمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خونه خوړي اړکجه وي

○

د شنډي تخم کرونکي عقوبت وي برخه شنده

خېږ يي څه کړي چې نه مومي ځوک يي وېژي له درست ونده

○

چې د مال اوښوندانه دواړه زکات شي

سرلوړي به دې هله په ولسات شي

چې نيستي د نيسمنانو نه غوڅېږي

او ردې پوړي په داسې خير خيرات شي

ولسونه په ميړونو ښوندي اوسي

چې ميړونه په نيش لکي، خود ميرات شي

شريعت چې په انډول[1] دخپل وخت نه وي

عقيدې واړه ذکتي لات منات شي

د ښوندون پانې په خپلي سکې[2] کېږي

هغه ورک دی، چې پيرې يې په ميرات[3] شي

چې يې منده نه له دين نه له سادينه

د ښوندون خوابږه په داسې ولس قسات شي

---

۱- انډول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه .

د هغې او ښې ملامــا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه څخه زيات شي

هر غوږ څنګ[1] ته دوه رنګان ور ننوځي
ځان دې پوهه په دې تکی هوښيار کړي
تا بيا کړانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمی په اتبار اتبار کوي نا کرې
د دوه رنګو[2] وي نظر په خپلو کټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي
چې د ننګ خبره راشي کور غاري شي
تش ميدان کې به د دوو زوتو د بازار کړي
تاته لا چې دياره وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روز ګار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروند و ليکه[3] دې
يو مخيزه شاه ځلمي يو مخيز کار کړي

---

۱- غوږ څنګ = تحريک - خوځند

۲- دوه رنګ = دوه پرک - دوه ژبی - منافق

۳- ليکه = حساب

○

همخېل جس دی سړیتوب خاورې ایرې کړی
د دوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی
ښستن توپل د قدرونه دې پیدا کړي
یو سری د بل سری نه په څه کم دی
تر بیمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس ګرم دی
ستورتلیزو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په کلونو د شرم دی
با توران چې د کونترو ځای له راشي
ای ویډلو! نه هر چا ودی د غه غم دی
دې تولنو او دودونو لیشتکې کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی
په لویدیځ کې لېږ له عقله رنایي ده
په ختیځ کې د هر لوري نه تورتم دی

○

نمریتار[2] چې د فرعون وي نرامن نه دي
نرامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- ترپیمار: وهل ټرل ۲- نمریتار: د بل د وړ ته ناست.

چې يې جسه وي جابروته تيتيږي
چې جسمه وي جابر رابغول کړي

چې د بل په سترګو وينې تول راځه دي
روغ هغه چې يې پخپله ځيرول کړي

نه سړي شو چې سړي يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزړي، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزړي بازول کړي

ننګيالی دښمن نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائی رنګ کې رنګول کړي

په ذړوکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لوړ په لوړه تيرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشې

ښاپيرک په توروځمځوسر ښاسي
سورپيا شه ختيځ رانولي پلوشې

د بازونو باتورانو پدې قات کې
ټپوسانو ځنې غوره دی باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

تر څو پښې راټینګوي به يې مشمشي[1]

لا ليدلی يې بورسترکی کليم نه دی

څکه ګرځي فرعونان لا په نشي

دحق د وګه له خپل ځای ړقولی نشي

دباطل دا شد تو نه خرخشي[2]

اروپیچ چې له نقشې دکا ئنات وي

په بل مخ شوی دنړۍ هغه نقشې

○

چې د نمر سترګه وبريښي

غرونه واوري کاندي ويلي

حق بر یال پرون هم نن دی

که يې نشته څوک په سيلي[3]

داوبو د مخ کيل نه دی

کليمه د کانې کيلي[4]

د نښتر د سيالی نه شوي

که په خنز شوي دېری دېلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = دنهوره ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلی = ملاتړ

٤- کیلی = کرښې، ٥- ډیله = یو وا ښه.

بدخوګ بدونه نه وايي
خلق شوي داسې ايلي
چې رنځور باوېړي[1] وکړي
پوچې شي د دارو هيلي
له پولاد اصيلي زېږي
خړې نه زېږي اصيلي
چې نښتر له برمه دروهي
نه ټينګېږي په يونسلي

لکه کس کړي په ځان غاړې
هسې قام په ځان ځانې[2] کړي
د هر چا تبر له تن دی
خپلې سپينې خپله پرې کړي
هر څوک قبر ځان له کني
هر څوک خپلې جنازې کړي
غليان له کوره زېږي
پلمه بازخه له پلمې کړي
هر څوک ځانته تبې[3] سرې کړي
بيا يې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باويړي = د ناروغي بيا تاندېدل، ۲- کانی = شندې - غاړې، ۳- تبې = د کمتي تبخې

خپل عمل بري بښن دی
خپل عمل په غاړه پېړي کړي
څښتن ظلم تېري نه کړي
هر څوک خپله د یوې مړي کړي
د فرعون د کور له درنده[1]
کلیان جګې نېزې کړي

په مسور[2] وباتوړنه رنګوي نوکې
د تنزیو تودې وینې یې مسور وي
د ننګیال کړلي خېژي، سمسورېږي
میوې وان او سېنځي یې که سوسر[3] وي
د دوران تابیاد هغه چا دوس ده
په غیبتنو شروندون چې یې نظر وي
د تاریخ تول نږرزوري پړکونه سني
چې مدام د ننګیالو موټي لښکر وي
منګوان به څودحق د لارې تښتي
د هر یو لار به آخر پدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولي - جوس .

۲- مسور = د منوکونو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = د وکیا کبدونکی اور .

کلیمه لوی چیناګر دی   تل ترتله په غوږ ځنګ
سوسرونه پرې سپرلین دي   سیمه سیمه پرې ګلرنګ

دکشر و مشر فرق خو خود وي
څښتن لومړی دی او پسې ته یې
دیونه کچ یې په نورو بره
هغه قدیره، ځواکمن مېړه یې
چې دې خوېونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
ځکه دې غوره پخپل سر اخلي
د هغه مټ یې، د هغه کړه یې
د هغه مل یې، په زړه م بسیل یې
له سین زرغونه بربوکېنې نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
دا اله خپل ځایه لا اخبر نه یې

---

۱- غوره، تور تهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

○

په درست عمر کې بونړه[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دامیشکاری یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
د کانی غوځکی یې ټول عمر په لاری یې

نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مسنود څه
هسې لوټ[2] یې او دځمکې په مخ باری یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګاری یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې او س هم زناري یې، بت ګزاری یې

لږ ه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خواری یې

چې همدغه مذهبونه دې امساوي
لکه ړوندله کونکونو به غوزاری یې

○

د غلیانو په مسودونـــــن
چې زنارونه و، هغه تسپې دي

---

۱- بونړه = لومړی ښکارکول، ۲- لوټ = بې هډوکو ځاندره.

کتاب کښلی، باطله کړی

دکتاب مینځ نن هغه کیسی دي
انځور هم هغه خدا ئی انځور دی
ولې پرې شوې پوچ کښیدې دي
چې خلیلانو را پنګـــولې
دامتیانو هغه کعبې دي
دا چې یې زړونه دکلیمو خیژي
چې ویخ یې کورې بې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې پهلاس دی
ځکه یې ویشتې تل مُوندې دي
چې حق ننګي وه ځلمی وغشـــي
چې بې ننګي شوه ځلمي دُرمې دي

○

دباتورو دورتــرل ده بـــر
لړه ناسته یې په ځـــاله
دشهوند برد[1]کې، راځې پېتې[2]
دنصیب لیک ته اتـــالــه
چې نیستي په هستی مـــارل[3] یا
څه به خلاص شي له زوالـــه

---

۱- برد = سیالی، ۲- پېتې = ورېستې، ۳- مارل = حسابول.

چې يې ټکره کليمه ده
ولې نه دي ټول راټـــاله؟

بازداري دې خپله ستايي
په دېوال له تش پېخـــاله!!

په نړۍ باران پسخه شـي
اوم غــړن لوښي کلاله!

د بل کټې ته په طمــع !
هيڅوک نه کټي يې تالــه

خواږه برسېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېرشولنه که هرڅو ترخــه ده

تيرې به وي ترهغې څــلې څلې
چې دي دېوټ باندې دېوه څومره ده

حجره، جماعت کې يې رېښتيا وويل
له يومخيزنه ولسيا خپـه ده

د راابياکې بورجل ته ځان رسوه
که لاردسروغنوچاپه چاپه ده

د صبالاره څوک دپ کولی نه شـي
مېنه داوخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېړني وویل
دا د برننګۍ لارې لومړۍ کړپه ده

ښه عمل «زه یم» ږغون کړي
بد عمل د «زه یم» رنګ شي

چې په «زه یم» شهسری[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخی شي دورنګ شي

بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي

چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسري = ستر سري - لوی سړی.

کښنیده پرې ستا عمل دی
که دې "زه یم" سرانځور دی
شو سر هسکه دلې هورې
چې په "زه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د خېټې غم خوړکو!
خېټه هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په "زه یم"
بې له "زه یم" د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سرې ذات پورې پیغور دی

د مېړونو تېرو تورو چورنګ یو رل
د اَتي په امبالې چې غورمبېدل
د هغو ښارو بنه الـــوزي
سر چپه چې جُره باز ته نیغېدل

---

۱- ځوانکه: د زړې یا تخم هغه شونې تیا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبيلو خروڼه غښتي
چې له حق ځني ناحق ته اوړېدل

چې خوړلې سوګندونه يې د وفا وو
دار يې ينبي په اوږو وګرځېدل

د ړندو کلي کې کراڼې خرمېږې وي
او لالونه په سو پياکو خرڅېدل

د کليم په برخه دا رنګې مړژواک وُ
چې له واکه بې واکې ته پسخېدل

د مېړونو پولادي مټې سنګر وي
تور برېښنونه يې شملې د قام د سروي

په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
يرغلونه د باطل چې يې په سر وي

د مېړونو نغرۍ کوندرۍ شرېکې وي
شيخ ملي دوتري يې واړه يو دوتروي

مخور د ړانې هغه تومن دی
چې پرانستي يې په درستي نړۍ وروي

د ړنړم چينه به يې هم چيرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځېلې د نښتر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نېزو کې يې دوړه انګو ستوري ولاړ شي
ننګيالي د نمر خاته ختلي نمر وي

که د ينګان لري هر څو ستري وزرې
لويي ماري د باتورو په څيګر وي

چې کاسير وي په پړوني کې بربنډ وي
حيا خپله حيا ناکوله څادر وي

پردې بد شي د کټوي خپلې نکولي (۱)
بدي کړوني خپلو بد وله اشر وي

د مېړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
يا د هيڅ تول ماڼۍ يا تول نهر وي

○

چې يوه يې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجي (۲) لاس وي
په توده کې يک (۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده    نه د ژوند دستور او لاره
چې يو خودي په وله (٤) وي    او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولی = پخکړي - لمده بل، ۲- کنجی لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړي.
۳- یک جلب = چې آسونه يې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماڼۍ - هوسا.

دمیړونو لار[1] لومړی توری وهلي دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړشي
دمیړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې مټې بهیځ راکاږي او نسر شي
دقام مشرهم دقام په جامه بوي[2] یه
چې ولس یې دشړیه وي، شړیور شي
زمانه که بېرشوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې ښنځې کړې تورغرشي
چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نورخو هسې خلقي خوشې ککرشي
دسینا په دونهه پنځه توله سربېري
دیوې دونیمې ترنخه یوتبرشي
برغو[3] پوک وهه، دننګ ورکا نغارې له
داخواره واره بنجخې[4] که لښکرشي

---

۱- لار: قانون ، ۲- بوییه : پکار دی، ۳: برغو: سنکر- تورم ،
٤- بنجخې: درې خچې ( په اصل کې دوني بوټي سرغوټه وائي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توربریښ چې په میدان کې جنګیالي وي
سر څیرې کې یې وتلي ننګیالي وي
په خپل کور کلي کې د هر خلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي
چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي
کلیمه پښتوله، په لاس کې ببل توره
د میړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شي دی هغه منډه دابدالي دی
په داځه که دچا توره ابدالي وي
په سومنات دغوا بین په خوله بانګ وایي
چې په خټه کې یې ګډه بلالي(رض) وي

بازدارې پورې پیغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول
په تولنه کې رڼا پوښتي زانغله
که وکړې توپ د سیلمۍ حاجیان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره

پدې شخړوکې یوڅوکه کلیمان شول

چې د یوې یې ستا پلرینې واخستلې

د مېږي له ځایه پورته شوآتیان شول

د همت سپاره دې و بوګنېدل هسې

خر سپاره درته له پامه وزبکان شول

زهریالی له خپلې ماري په شا نه شو

په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونولـه

ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي

تېره شلونه داز غوکه وي تل

د ستر کو لاره څوک نیولی نه شي

د ګیدړانو په اور روکې چرې

د زمري غورمب خطا کېدلی نه شي

چې شي لاس برې د فطرت په لارو

په هغو چرګ را پرېوتلی نه شي

د نن په ګټه چې یې سود کړیدی

د صبایې میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نږدی
خبر د بل نړوي سراو رڼا نه شي

په شاه میره یې انګازه شوېده
که یې بنجخی نسن لیدلی نه شي

چې د لېچو نړور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګېز یې وتړي نو هغه لار شي

چې و سلو متو سره کلیمه نه وي
که دغر پښان تو من وي تار پتار شي

له دستور د کا ښنا ته ښنک وښتي
د کندوانبار شته من قامونه خوار شي

بې وسي په دنیا لويه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي

آدمزاد لوی یې میراني شي کولی
چې د خیښتې د غمونو نه وزګار شي

خواري بويه خو په حقې لارې بویه
خړېک کله په خولو وینو چنار شي

ته پخپل بخرکي ولې نا ویسا یې
هم بخرکي چې خوندي کړي سوانکار شي

شنه ږاستي د سروې هيڅرې خيم نه خوري
كه پرې تېر د خزانو نو تر بيمار شي

د باطل دوېښتكي خو كليمه ده

له نيمګړو مفكورو هيڅ نه وېرېږي

د ږرقامونه به د ځمكې له مخ ورك وو

خود ټكه سره تيغ نه وږنى كېږي

ږېږي[1] ټول سمسور به دل څوخت ترمنځ كړي

تلوار ګرندو! ډيګ پسوار باندې تودېږي

پلويانو د روسو اولېنن! واورئ

دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نوړېږي

بنسټونه د ژوندون په يوه حال وي

ادا بڼې مګوله وخت سره نوړېږي

ټول بدلون يا نه بدلون ژوندانه ندى
خوار هغه دى چې يو لورته ځنګزنېږي

په شونكار دا باسين چېپې شوى پورته

ولې چېپ يې د ما نهكي سندره نه كړه

۱- ږېږي = ږېږی.

تا ړاکړونه د خزان ږړکونه تېر شول
خود سروي شنه جامه يې ژړېنه کړه
چې رېښتيا ويل د کومو خولو تور وه
بر په دار يې له رېښتيا و بله نه کړه
راغلل ډېر انقلابونه د لې هوري
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه
مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه
تېرو تورو، تهمتونو او خوږي هم
هيڅ کچه د ښتيالو عقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشي پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لاړو چلېږي
سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي
ککرې د کليمانو وي تل هسکې
ښکروري ککرې ورنه ښتيتېږي
حقملان له زماني وي پيرې مخکې
خلق نور د زماني په دود تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیمه د کائنات سره جنګیږي
غل د رغل به له جنګ غالي پښاکیږي
نه دي خپله غاړه خلاصه په مړيه کا
دي نه مه کوره چې کله صبا کیږي

د میړه له مخو پاڅه  د ناحق جهان نسکور کا
په چینجنو روستو ګرځو  بود هیره پورې اور کا
دا خدایان د تینګي نه دي  ولې نه سترګې د بوّر[1] کا
د قامونو نه دی ځمکه  د آدم تالیزه کور کا
دا د غوبنو تش لوښو نه  په خلقا د جسو نور کا
د ښتن په ګنبد وکې
خپلې چارې دې اخوړ کا

په تیرو تورو برغنده ځي
ننګیالي ځي په خپل منده ځي
د میړه د خولــــــــــو وړم
د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بور = نهري.

له ښتنه چې هم غږ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خیر دی
که ځي دار له، لوَنه ځي
وسپینیزې خَتې[1] را وړه
د ګلپانو آخر کنده ځي
چې په څانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
څه يې ویره بیا له اوره
زړې مات وړوکي کور کړي
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو[2] به تر څو سود کړي
کائنات ځني پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

۱ـ خَت: کمیس، پَمنۍ، ۲ـ چرسو: تنګ ځای

## سرېخیره تل پائېږي

خیر دي نشته سرېخوره!

د فطرت په هنداره کښې

لهٔ ځښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی
چې ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرونه لړېږي
څه ارزښت دلې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چې په جَس دی
د هوسو د غرالې[1] نه
د زمري ورتېره وس دی
په زرګونو دلو سرد[2] له
یو بڅری د اور بس دی
ګړندو پرې ښیره ګل کړه
د مېته وُ کاروان پس دی

---

۱ـ غراله = د هوسو سبل

۲ـ سرد = یو وابنه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لګه کرګس
په درست قام يې لګولی
له پېرو راسې کرګس
دوی ږېښمين له سره واخلی
قام له پاتي شي يکرس
روږي د ب کاندی ولس ته
بيا کوی مانځه او د س
د بې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وَس
د «لا تَرکضوا» وخت لنډ دی
لا کوئ هوا هوس

○

چې ښتکوری ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي
چې خدايان پرېمخی پرېوځي
را اوچت بنيادمان شي

چې ځانګړې دوتن ورک شي
په توبنه لولنګران شي
کليمه هله په پښو شي
دباطل بوربجل چې وران شي
زورداری کې ځاناځان وي
کليمه کې تول يوځان شي

○

پدې شخړو پرکښوکې
هم هغه ځلمی لنګور دی
چې د تول نوغې دخيره
همه چاروکې حقطوردی

○

پور په جسو شه بياګوره
چې يوتن څنګه لښکر شي
د ميړه له چارو برېښي
په تندی اخستی غر شي
هم دهغو برخېزتيا ده
چې خرډک پاڅي نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېرې تل سحر شي

چې ژوندی وي د ښکار ځله

تو دې وینې خود شهپر شي

زمرین ګوا ښه شاه ځلمو ته

سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورې دي

ځکه یې غشي بې پلې دي

چې له بازه چټو ته ناست دي

پېغلونه یې ولجې دي

ولسات لکه تنزري

د ښکاریانو په ښچې دي

د بل مخه یې بتوله مخه

پرکښې نه دي ژړمې دي

د نمرود وسیلې وایي

له آذري عقیدې دي

چې نومړي په سرود دي

د سروتښې پېښې دي

د باتور تخښې یې نشته

لا مخې توې جوښې دي

د یو شرق زغملونه دي

داپڅي دومره اومــي دي

پکې زه یم بــوده نه شــه

وجود تښتې تنســتې دي

○

د آدم ځانګړی ، زه یم ، لکه حق صمد احــد دی

تن زاړه دی ولې زه یم ، لم یلد ولم یولــد دی

○

د هر زړي په درون کې د خپل ستر وجود انځور وي

تېغ ، تنه ځانګې کلونه یې هم کامونه په خپل لور وي

○

د یکرنګه برید مېړونه نیسي نور نور سنګرونه

د فطرت خوا بزه لرنه دي که ساره نه شي متونه

لمن څه چې ، خادر خور کا د سپرلي دېر دي ګلونه

ته لا میشت په سر پراوې څروند دي شخړې پراوونه

خوني خوني ستور تلېږي تازه نه کړه یو خونه

که تنها کوته کښیني شي کوته به مزلونه

قدم تېز کړه ، چې غر بیږي ستوره تلو کې جرسونه

یوه ورځ به درته راشــي

ستورکزونه بیلکــــونه

چې په يو هسته پيوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
ورانګه کډه شي په ورانګې
ړادبره نوي نمر شي
چې حجرې غښتلې پاڅي
نو د هک څاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشير شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپېنګير سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګوابش شي
نو حوغې نوي په سر شي
شهسواران چې يک جلب شي
د برډونو (۱) لوى اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
ستر کې ستر کې يو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

(۱) برډونه = ولجې، مال، غنيمت.

دښوند پښتې شي مخ لسوځي
چې شو کېږ تېره نشتر شي
چې کتل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ور شي
چې دعقل سپاره وينښ شي
پوچ خدايان هله ډېر شي

○

دوجود توره زېږون دی | او د «زه يم» نوښتون دی
نوښتون کره دښوند تره | نوښت «زه يم» له پاخون دی

○

يو غورځې دی اباسين دی | غروند غرونه دی يو ږنيز دی
يوه هڅه دی سپږمی ده | يو ږغل دی ستوړ تلېز دی
له تش سور لاس او چت شوی | اوس دهر غوره غوريز دی
ستا د توږې له تکوره | کائنات ټول سندريز دی
غره راغه دې له همته | ګل لمنې ګل مخيز دی
لا دښوند غرمه ده لرې
دا خو اوس لا سوړ کهيز دی

که د ښروند نقشونه د پردي
ته د واړه ښروند انځوري

نور ښروندون دي همه پلي
هم یو ته یې چې شهسوري

واړه ستوکي یو یو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طوري

د هوسې په سترګه د ښه
هم باتور کسي د بوري

د ذري په ځانده نمري
په قطره سمندر سپوري

ته په ځمکه کې آسمان یې
په سره او بوکې اوري

د لښې سره پیا[1]څه یې
لا شه توره، هم تکوري

چې راغونده شي موتي خاوري
کائنات شي چې ورخوري

د جرو په اړونکه کې
له ظاهرلیده څه نوري

---

۱- پیاځه = د شاتو ډک ګبین

نور کورونه په تا تنګ دي
نه همسیال د خدای د کور یې

مفکورې به د هېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې ښن سندرې وایي
په صبایې وایي ساندې

په ټولنو کې نړغونه — دا د ډیوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دی — د خولو وینو رنګونه
د شاه متو الامې یې — اسمانکه سنګرونه
ګنبدې یې د ګړاو دي — ویړ سپیرلي شالیزارونه
د ناغوسترکو شوګیرې — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګرېزې یې — خوږې ګړې شولانونه
د عقلي مبنو د رشه یې — هڅونه، تهذیبونه

د ځلي د نرګس غبن دی — پسرلي یې تا نګه راتلی شي
په ارکه چاپېریال هم — انقلاب زرغونېدی شي
عکسمنه پرګنو نه — مله د لارې تولیدی شي

مېړه مل که د ښمنستن دی    له ښمنستن مخکې کېدی شي
د تیرو ازغوله تخرګه    نوي ته وتړ راستر کېدی شي
د فرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېدی شي

آدمزاد لا لېشتینګځ دي    لا ډېر لرې له خپل ډکځ دي
که په ټومنه باتوران دي    لا په چاروکې لوکځ دي
فلسفیان یې هلکځ فکره    لا، له ژړه یم یې درکځ دي
په دې ویر لوی کائنات کې    په یو ځمکه، نمر تاوکځ دي
که خپلوا که ډېر ځان بولي    چې یې ګوري لا بل وکځ دي
د شپانه ښاري لا نه ژړده    شرمخان د خپل کندکځ دي
لا یې عقل ډېر کچبه دی    لا په ډېر جهلو نوکلکځ دي
د سر سبوره نغوتکو    په لاسونو کې لېنزکځ دي
ژبېښناکیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولکځ دي

لا په سر یې فرعونان شته    لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي    لا دو چې ډېر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول    چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحیا خبري لا لند پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کښړي د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وایي لا مخ تختي زناریان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی لا د قام، خاوري بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به راځي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کیږي
د خښتن او د خپل زړه یم
په اړیکو چې رسیږي
وخت به راځي دا حیوان چې
د سري په پښو پاڅیږي
وخت به راځي پوچ خدایان چې
د بربري، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړیږي
وخت به راځي کائنات چې
ستر آدم ته بیا تېټیږي

د آدم په پاښيدو کې
لا د دېره و پېره څند دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په خټې کې لوی کولند دی

ته په ټول کائنات بري يې      خو له ځانه بې خبر يې
ملغلره يې په زړه يم      که سيپۍ په تن بهر يې
په يو ځاځکي کې طوپان يې      په ذرې د ننه غر يې
بر سېرنه که لاکډ ښکارې      چې په جس شي نو سره زر يې
ستا توبري توره دې "زه يم"      هم په "زه يم" ولجه ګر يې
که ور ستي راغلي کاروان کې      خو د وړه کاروان سر يې
مينځ هستۍ ته دې پام نه دی      د بهر هستۍ په چکر يې
لا نيمچه آدم يې ځکه      لا د نيم ځان روزنګر يې
انځاره کې حق ته تليه!
د ناحقو انځورګر يې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که يې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

الکتاب په ادم نږونی
لا نښودن آخرنی دی
که هر څو مره لغونی دی
خو هر ننګی صبانی دی

حق لا اوس هم ناویلی
که ویلی دندلی دی
فرعوني دی په خمار کي
نازیږیږي کلیمی دی
چرګ پرېوتی سیلاب زوځي
نوح پلوی بي بېړۍ دی
دکعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتي نه دی
دالیندی واړه بي ژۍ دی
خلق خښتي د بتکور دی
حُکه ښخي آذری دی
ناپوهي د هر وګړي
په وګړي په غدی دی

مفکورې پوچې نیمګړې
ښکیلکونه، تیزندی دی

چې خوندي دې کړوروړه شه
چې دې وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسں یې بایلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوري
چې د پولو ځای بندي شه
د خلیج سپړي ته وتي
د بُتانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخوړ
ځوک پُغلا په کرېندي شه

PROPERTY OF ACKU 7550

ژوندانه تول یوځانیز دی
که هر څومره ګڼ رنګین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ د تلو په سیو مخه
که هرتوکی بل مخیز دی

په یو بم په زیر جاروځي
دارباب که زر تاریز دی

لاړې لاړې یوشهلاره
تل تلي، یوشه تلیز دی

ستور تلیز ستور تلیز کور کور
کائنات یوشه کوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې خیز دی

خو ځمکه زې په شونې تیاو
د همه شروند د توزیز دی

په تنزومت کیراوکړه
شیش بیا واخله ویره جهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متی رابنکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې وباسه آسمان ته

له بېلې درياب ته واوړه
له تنګي نه پلن دامـــان ته
غوږکمنه په لينده کـــړه
بيا ورکښېوږه ښـخ کمان ته
له سپېرغودي د پرشوند وکــړه
لاس کړه اوږد نمـــر روښـــان ته
پوهه بوځه ځـــيرکتيا له
ځيرکې راښکه ايمـــان ته
په نرۍ ورخوږ پـــدوکې
ګرځېدلی اوسه ځـــان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**